جمهورية مصر العربية　　　　　　٢٠جمادي الأخرة ١٤٤١هـ
وزارة الأوقاف　　　　لغة البشتو　　　　١٤ فبراير ٢٠٢٠م

(١)

# اخلاقي ارزښتونو ته د قرانکریم پاملرنه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا »** ژباړه:**« حقیقت دا دی چي دغه قُرآن هغه لاره ښیي چي بیخي سمه سیخه ده. کوم کسان چي هغه ومني ښې چاري سرته ورسوي، هغو ته د ستر اجر زیری ورکوي»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

په قرانکریم د لویوالي اړخونه دومره ډیر دی چې چې نه شمارل کیږي قرآنکریم د الله جل جلاله پیاوړی او دحکمت څخه ډکه ښکاره او رڼا لاره ده او سمه او برابره لاره ده چې هیڅ تحریف ورته نشي رسیدلاي او نه هم باطلوالي ورته رسیږي علماء پري نشي مړیدلي او همدارنګه که څوک پری هر څومره رد وکړي دیته هیڅ ډول زیان نشي رسیدلی هغه عجایب چې قرآنکریم وړاندي کړي ختمیدونکې ندي چاچې قرآنکریم وویلي هغه ریښتیني اوچا چې پری عمل وکړ بدله ورکول کیږي او څوک چې پدي باندي حکم وکړي نو عدالت ته رسیږي او څوک چې دیته بلنه ورکړي نو هغه سمي لاری ته بلنه ورکړي ده پدي هکله الله جل جلاله فرمایي:**«وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ»** ژباړه:« موږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی، چي په ډاګه

ښکاره د هر شي څرګندوونکی دی. او د هغو خلکو لپاره هدایت، رحمت او زیری دی چې د امر منني غاړه یې ایښې ده.» او بیا فرمایي:**« مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ» ژباړه:« موږ د هغو د تقدیر په لیکنه کښې څه نیمګړتیا نه ده پرېښې».**
په قرآنکریم د لویوالي د اړخونوڅخه یو هم دادي چې اخلاقي جوړښت ته یې پاملرنه وکړې ده چې د وګړو او د ملتونو په ژوند کې باید دا رامنځته شي او ددې لپآره یې د ارزښتونو او د بنسټونو او د انساني سلوک د پلي لپآره یو سیستم رامنځته کړی دی چې په ترڅ کې یو پیاوړی ټولنه رامنځته کېدلای شي او زړونه پري پاکیږي چې په ترڅ کې ددي خاوندان یو یو له بل سره په ریښتینولي امانت رحمت عدالت باندې چال چلند کوي او همدارنګه د خلکو ترمنځ د اختلاف روش باندي باور لري او همدارنګه په ګډ ژوند باندي باور لري چې سوله ایز وي او د بل درناوي ته پاملرنه کوي او همدارنګه هڅه کوي ترڅو دنیا په دین باندي ودانه کړي پدي هکله الله جل جلاله فرمایي:**« يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ» ژباړه:**« اې خلکو! موږ تاسي له یوه نارینه او یوې ښځې څخه پیدا کړئ او بیا مو تاسي قومونه او قبیلې وګرځولئ، تر څو چې تاسي یو او بل سره وپېژنئ. په حقیقت کښې د الله په وړاندي ستاسي څخه تر ټولو زیات عزتمند هغه څوك دی چې په تاسي کښې تر ټولو زیات پرهېزګار وي. په باوري ډول الله په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی.»**او بیا فرمایي:« وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ * إِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ..» ژباړه:«** بېشکه که ستا رب غوښتلای نو ټول انسانان یې یوه ډله (د یوه دین پیروان) ګرځولای شول. مګر اوس خو هغوی په بېلا بېلو لارو تل روان وي.*او له لارو ورکی څخه به یوازي هغه خلك وژغول شي، چې ستا د رب رحمت پر دی.» **او بیا فرمایي:« هُوَ**

**أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا»** ژباړه:« هماغه ذات دی چي تاسي يې له ځمکي څخه پيدا کړي ياست او دلته يې تاسي مېشته کړي ياست».
که يو څوک د الله جل جلاله په آيتونو کې فکر وکړي نو په يقيني ډول سره به دا درک کړي چې اخلاقي ارزښتونه چې قرانکريم يی غوښتنه کړي ده دا يو ډول ندي چې څوک تري لاس په سر شي او يا دا چې په يو چاپيرياِل کي پرى عمل وکړي او په بل کې ونکړي شي بلکي دا د ارزښتونو يوه مجموعه ده چې ثابته ده او د وخت په تيريدو سره نشي بدليدلي او نه هم د ځاي په بدليدو سره هغه بدليږي او پدي باندي دا دلالت کوي چې دغه اخلاقي ارزښتونه هغه ارزښتونه دي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم پخپل ژوند کې پلي کړي وو او نور خلک يی هڅولي وو او خلک يی ديته رابللي وو کله چې ام المومنين عايشه رضي الله عنها څخه د پيغمبر صلي الله عليه وسلم د اخلاقو په هکله پوښتنه وکړي شوه نوهغه ونکړي شول چې بيلابيل ډولونه د اخلاقو هغه ته وړاندي کړي بلکې هغه ديته راجع کړه چې قرانکريم ته رجوع وکړي ځکه قرانکريم د ټول اخلاق هغه په ځان پلي کړي وو او د سعد بن هشام رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي الله جل جلاله دغه وينا چې فرمايي:**« وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ»** ژباړه:« او بېشکه ته د لوړو اخلاقو مرتبه لرې.» هغه وايي ما د عايشه رضي الله عنها څخه پوښتنه کړه چې ام المومنينى ايا ته ماته د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په هکله خبر راکولي شی هغي وويل آيا تا قرآن لوستلي دی ماورته وويل بلي، نو وويل چې د پيغمبر صلي الله عليه وسلم اخلاق همدا قرآن وو، او عايشي رضی الله عنها چې پوښتنه کوونکي ته يی ځواب ورکول پدي باندي ټينګار کولو چې په قرآنکريم ټول هغه څه راغلي چې هغه کې عقيده شريعت عبادت معاملات او ځيني نور راځي دا په اساس کي يو پياوړی دعوت دی د هغه چا لپآره چې غواړي يو انسان د اخلاقو له نګاه نه ځان جوړ کړي او پيغمبر صلی الله

عليه وسلم پدي هكله يو ښه نمونه وو چې د ژوند په ټولو چارو کې دا پلي کړي وو.
د مهمو ارزښتونو څخه چې قرآنکريم پرې هڅونه کړي ده د بشريت درناوي دی او د هغه د كرامت ساتنه ده او هيڅ ډول سپکاوي چا ته پكار ندي پدي هكله الله جل جلاله پخپل كتاب كريم کې مسلمانانو ته امر كړي چېد هر هغه كار څخه ځان وژغوري چې خلكو ته پرې زيان رسيږي لكه ټوكې ټكالي او بدګماني پدي هكله الله جل جلاله فرمايي: **«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ» ژباړه:**« اې مؤمنانو! نه دي نارينه پر نورو نارينه ؤ ملنډې وهي، كېدی شي چې هغوی له دوی څخه غوره وي. او نه دي ښځې په نورو ښځو ملنډې وهي، كېدای شي چې هغوی له دوی څخه غوره وي. پخپلو منځو کې يو د بل عيب مه لټوئ، او مه يو بل په بدو نومونو سره يادوئ. له ايمان راوړلو وروسته په فسق کې نوم پيدا كول ډېره بده خبره ده. كوم كسان چې دغه چار چلند پرېنږدي (توبه ونه باسي)، همغوی ظالمان دي.» او بيا فرمايي: **« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ» ژباړه:**« ې مؤمنانو، له ډېر ګومان كولو څخه ډډه وكړئ، چې ځيني ګومانونه ګناه وي. د چا پټ عيبونه مه لټوئ او ستاسي څخه دي څوك د چا غيبت نكوي. ايا په تاسي کې داسي څوك شته چې د خپل مړه ورور غوښې خوړل خوښ كړي؟ - ګورئ تاسي پخپله د دې څخه كركه كوئ. د الله څخه ووېرېږئ. الله ډېر ښه توبه قبلوونكی او خورا مهربان دی.»»، قرآنكريم د زړه پاكوالي باندې امر كړی ترڅو د هر ډول رذيلو كارونو او د كينو او په نورو باندې د بدګمانيو څخه بايد پاک وي پدي هكله الله جل جلاله

فرمايي:« **لَّوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَٰذَا إِفْكٌ مُّبِينٌ**» ژباړه:« په کوم وخت کښي چي تاسي هغه اورېدلي ؤ، په همغه وخت کي مؤمنو نارينه او مؤمنو ښځو په خپله ولي ښه ګومان ونه کړ؛ او ولي يې ونه ويل چي دا ښکاره بهتان دی؟».

همدارنګه د ارزښتونو د جملي څخه چې قرانکريم هغه ته پاملرنه کړی ده د همکاري او يو د بل سره د رحم کولو ارزښت دی قرآنکريم ټولنه ديته هڅولي ده چې ټول اړخونه بايد يو له بل سره په نيک کارونو کې همکاري وکړي او پرهيزګاری بايد وکړي پدي هکله الله جل جلاله فرمايي:« **وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ**» ژباړه:« کوم کارونه چي د نېکی او خدای پالني دي، په هغو کښي له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چي د ګناه او تيري وي، په هغو کښي د هيچا ملاتړ مه کوئ.»، نو د ټولني د ګړو ترمنځ همکاري د دولت د پياوړتيا له لاملونو څخه يو لامل ګڼل کيږي ترڅو ټولنيز امنيت رامنځته شي نو هر انسان غوښتوني لري چې بايد هغه ثابتی شي او د هغه په رامنځته کولو کې هڅه کوي نو که چيرته په ټولنه کې يو له بل سره د همکاري روح پياوړی شي نو پدي سره د ټولني ټول غوښتني پلي کيدلي شي او په ټولنه کې ټول ددي هڅه کوي ترڅو يو له بل سره د مرستي ارزښت پياوړی کړي او خپله انرژي پدي کې مصروفوي الله تعالی دی دغه شاعر ته خير ورکړي چې دغه شعر يی ويلی دی:

خلک د خلکو لپاره دي هغه که عرب وي که عجم وي

***

ځيني د ځيني نورو لپاره دي اګر که هغوي احساس ونکړی چې هغوي خادمان دي

پيغمبر صلی الله عليه وسلم هم د همکاري د ارزښت د پياوړتيا لپاره بيلابيل احاديث روايت کړي دي لکه چې فرمايي: د مؤمنانو مثال يو له بل سره په مينه محبت او همدردي کې د يو بدن په څير دی کله چې د بدن يو

غږي د درد له کبله شکايت وکړي نو ټول بدن ورسره په درديږي، همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي يو مسلمان د بل مسلمان ورور دي د هغه سره به ظلم نکوي او څوک چې د بل ورور اړتيا پوره کړي نو الله به د هغه اړتيا پوره کړي څوک چې د مسلمان څخه يو سختي لرې کړي نو الله به د قيامت په ورځ د هغه څخه ډير سختياني لرې کړي او څوک چې په يو مسلمان باندي ستر واچوي نو الله جل جلاله به د قيامت په ورځ په هغه باندي ستر واچوي.

ددغه ارزښتونو د جملي څخه د فکر او د عقل څخه د کار اخيستلو ارزښت دی الله جل جلاله خپلو بندګانو ته ار کړی دی چې د اسمانونو او ځمکې په پيدايښت او په مالکيت کې فکر وکړي او الله (ج) هغه څوک ستايلي دي چې پدي کې فکر کوي الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« **إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ * الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ**» ژباړه:« د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت او د شپې او ورځي په تګ راتګ کښي د هغو پوهانو لپاره ډيري نښاني دي:*چې په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښي خدای يادوي. او د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت کښي غور او فکر کوي (هغوی په غير ارادي توګه غږ کوي چې:) "آې زموږ ربه! دا ټول شيان تا بابيزه او بې مقصده نه دي پيدا کړي، ته له دې څخه پاك يې چې عبث کار وکړې؛ نو اې ربه! موږ د دوږخ له عذابه وژغوره؛»»، او بيا فرمايي:« **أَوَلَمْ يَنْظُرُواْ فِي مَلَكُوتِ السَّمَاوَاتِ والأَرْضِ**» ژباړه:« ايا دې خلکو د اسمان او ځمکي پر انتظام هيڅکله غور نه دی کړی»نو پدي سره مونږ لپاره قرآنکريم د فکر او تدبر دروازي پرانستي دي لکه چې فرمايي:« **اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا» ژباړه:**« الله هغه ذات دی چې اسمانونه يې له ستنو پرته همداسي درولي دي» **او بيا فرمايي:« قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ**

**سَرْمَدًا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ أَفَلَا تُبْصِرُونَ»** ژباړه:« له دوى څخه پوښتنه وکړه: "تاسي کله فکر وکړ چي که الله تر قيامته پوري پر تاسي د تل لپاره ورځ خوره کړي، نو د الله څخه پرته هغه کوم معبود دی چي تاسي ته شپه راولي، تر څو چي تاسي په هغې کښي استراحت وکړای شئ؟ - ايا تاسي بصيرت نلرئ؟»، او مونږ ته يی امر کړي چي پخپل نفسونو فکر وکړي لکه چې الله تعالى فرمايي:« **أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُواْ فِي أَنفُسِهِمْ» ژباړه:**« ايا هغوی کله پخپل ځان کښي غور او فکر ندی کړي؟» **او بيا فرمايي:« وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ * وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ» ژباړه:**« په ځمکه کښي د باور کوونکو لپاره (د الله (ج) د قدرت) ډيري نښاني دي؛*او پخپله ستاسي پخپل وجود کښي (د عبرت نښاني دي). ايا تاسي په ځير کتونکي نه ياست؟» او قرآنکريم مونږ لپآره په هر هغه څه کې د تفکر او فکر کولو دروازي پرانيستي چي انسان ته پري ګټه رسيږي ځکه چې دغه فکر کول په عبادت کې راځي او پدي باندي صحابه ؤاو تابعينو ټولو عمل کړی دی ابو دردا رضي الله عنه فرمايلي دي چې يو ساعت فکر کول د ټول شپي د ودريدو څخه غوره دی او همدارنګه پدي هکله بل حديث هم د وهب بن منبه رحمه الله څخه راغلي دی.

همدارنګه د دی ارزښتونو د جملي څخه بل هم د خبرو اترو او د بل د درناوي ارزښت دی زياتره ايتونه ديته راغلی چې امت يی ديته هڅولي د چې د خلکو په ژوند کې د خبرو اترو له لاری ټول مسايل حل شي ځکه خبري اترى هغه يوه لاره ده چې الله ج جلاله خپلو انبياؤ او رسولانو ته روش او لاره ايښي وه چې خلکو ته پری د الله جل جلاله رسالت ورسوي ځکه اسلام مبارک دين د عقيدي په آزدي باندي باور لريلکه چې الله جل جلاله فرمايي:« **لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ»**ژباړه:« د دين په چارو کي څه زور او مجبوروَل نشته»، د الله جل جلاله نبي نوح عليه السلام خپل قوم ته په يو داسی دريځ کې خبری کولي چې د د عوت په

لاره کي خپل ډېر اوږد ژوند مصرف کړی وو لکه چې الله جل جلاله پدې هکله فرمايي:« ..**يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَآتَانِي رَحْمَةً مِنْ عِنْدِهِ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنْتُمْ لَهَا كَارِهُونَ**» ژباړه:« "اې زما قومه! لږ شان فکر وکړئ چې که زه د خپل رب له لوري پر یوې څرګندي شاهدئ ولاړوم او بيا هغه زه په خپل ځانګړي رحمت سره هم سر لوړی کړم، خو هغه تاسي ونشوه ليدلی. بنه نو زموږ سره څه وسيله ده چې تاسي منل نه غواړئ او موږ په زوره هغه ستاسي پر سر باندي وتپو؟»».
ابراهيم عليه السلام هم د سرکش باچا په وړاندي دليلونه وړاندی کړ او د هغه سره يی د عقل له لاری خبری اتری وکړی لکه چې پدې هکله قرانکريم کې راغلي دي:« **أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ**» ژباړه:« **يا تا د هغه چا (نمرود) په حال غور نه دی کړی چې هغه له ابراهيم (ع) سره جګړه کړې وه؟ - پدې خبره جګړه چې د ابراهيم (ع) رب څوك دی، او له دې امله چې هغه ته الله حکومت ورکړی ؤ. کله چې ابراهيم (ع) وويل: " زما رب هغه ذات دی چې د ژوند او مرګ واکمن دی." - نو دغه (نمرود) په ځواب کي وويل: " ژوند او مرګ زما په واك کي دی." - ابراهيم (ع) وويل: " بنه نو، الله لمر له ختيځ څخه راخېژوي، ته هغه له لوېديځ څخه راوخېژوه". ددې په اورېدو د حق هغه منکر هك پك حېران پاتي شو، خو الله ظالمانو ته سمه لاره نه ښيي**»،په همدغه لاره باندي د الله جل جلاله نبي موسی عليه السلام هم د فرعن سره خبری وکړې پدي هکله هم الله فرمايي:« **قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ * قَالَ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ مُوقِنِينَ * قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ أَلَا تَسْتَمِعُونَ* قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ * قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ***

**قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ * قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ»** ژباړه:« فرعون وويل: "او دا د کائيناتو رب څه دي؟"*موسی (ع) ځواب ورکړ: "د اسمانونو او ځمکي رب، او د ټولو هغو شيانو رب چي د اسمان او ځمکي په منځ کښي دي؛ که تاسي باور کوونکي ياست."* فرعون خپلو خوا و شا خلکو ته وويل: "ايا نه اورئ؟"* موسی (ع) وويل: "ستاسي رب هم او ستاسي د هغو پلرونو، نيکونو رب هم چي مخکي تير شويدي."* فرعون (حاضرينو ته) وويل: "ستاسي دا پيغمبر چي درته رالېږل شويدی، بيخي ليونی ښکاري."* موسی (ع) وويل: د ختيځ او لوېديځ او هر څه چي ددې په منځ کښي دي، د هغو ټولو رب، که تاسي څه پوهه لرئ." *فرعون وويل: "که تا زما پرته کوم بل معبود ومانه، نو تا به هم په هغو خلکو کښي شامل کړم چي په بنديخانو کښي پراته ورستيږي."».

نو قرانکريم د خبرو اترو او بل ته د درناوي ارزښت پياوړی کړي دی ترڅو د بشريت د ودي او پرمختک لپآره تری کار واخيستل شي او بل چاته درناوي وشي بغير لدي چې د هغه دين، رنګ، جنس ته وکتل شي ځکه قرانکريم د بشريت د کرامت د ساتني لپآره بيلابيل آيتونه راوړي دي ترڅو د بشريت ساتنه وشي او ددی بشريت د ساتني لپآره يی هڅونه کړي اګرکه د هغوي اجناس يو له بل سره توپير هم ولري لکه چې پدي هکله الله جل جلاله فرمايي:**« وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا» ژباړه**:«دا خو زموږ پېرزوينه ده چي بنيادم ته مو لويي ورکړه، په وچه او لمده کښي مو سپرلۍ ورکړي او له پاکو شيانو څخه مو روزي ور په برخه کړه او پر خپلو زياترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتيا ور وبښله» **او بيا فرمايي:« يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا»** ژباړه:« اې خلکو له خپل هغه رب څخه ووېرېږئ

چي تاسي يې له يو تن څخه پيدا کړئ او له هماغه تن څخه يې د هغه جوړه منځ ته راوړه او له دې دواړو څخه يې په نړۍ کښي ډېر نارينه او ښځي خواره کړل. له هغه خدای څخه ووېرېږئ چي په وسيله يې تاسي يو له بل څخه خپل حقوق غواړئ، او د خپلولۍ او پيوندونو له غوڅولو څخه ډډه وکړئ. باور ولرئ چي الله پر تاسي څارونکی دی».

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

د اخلاقو د جملي څخه بل هم چې قرآنکريم د هغه غوښتنه کړي ده د نفس ساتنه او د غصي او د کيني لمنځه وړل دي دا معلومه خبره ده چې انسان ته پدغه ژوند کې بيلابی داسی دريځونه رامنځته کيږي چې د هغه غصه راپاروي او بشري نفس تل داسی برابر دی چې هغه غصه کيږي هغه څه باندي چې واوري او وګوري قرآنکريم کې بيلابيل داسی ايتونه راغلي دي چې د انسانانو څخه غوښتنه کړي ده چې د خپل نفس کنترول او ساتنه وکړي او د غصي او د کيني څخه ځان وژغوري او همدارنګه د عفو او د زغم لاره غوره کړي پدي هکله الله جل جلاله فرمايي: **«وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ الَّذِينَ**

**يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ»** ژباړه:« د هغو لپاره چي د بډايۍ او بېوزلۍ په دواړو حالاتو کښي مال مصرفوي، د غوسې زغمونکي دي او د نورو لنډ پاري بخښي. داسي نېکان خلك د خداى ډېر خوښ دي؛»او بيا فرمايي:**« وَلا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ»** ژباړه:« ستاسي څخه چي کوم کسان د مالي وس او قدرت خاوندان دي، هغوى دي ددې خبري قسم نه کوي چي له خپلوانو، مسکينانو او د خداى دلاري له مهاجرينو سره مرسته ونه کړي. هغوى بايد عفوه وکړي او ورڅخه تېر دي شي. ايا تاسي نه غواړئ چي الله ښښنه درته وکړي؟ - الله ښه ښښونکى او ډېر مهربان دى.» آو بيا فرمايي:**«وَلا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ»** ژباړه:« او [اې پيغمبره (ص)!] نېکي او بدي يو شانته نه دي؛ ته د بدۍ مخنيوى په هغي نېکۍ سره وکړه چي هغه ډېره ښه وي، (ته به وګورې) چي ستا سره چي د چا دښمني لوېدلې وه، هغه دې لکه صميمي دوست ګرځېدلى دى* دغه صفت يوازي د صبر کوونکو په برخه کيږي او دغه مقام يوازي هغو خلکو ته چي د غټي برخي خاوندان دي، په برخه کيږي» او بيا فرمايي:**« فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ»** ژباړه:« بيا څوك چي بخښنه وکړي او اصلاح وکړي، د هغه اجر پر الله دى».

همدارنګه د اخلاقي ارزښتونو د جملي څخه بل هم پخېل منځو کې سمونوالى دى د قرآنکريم بيلابيل ايتونه پدي هکله راغلي دي چې خلکو ته يې پدي باندي امر کړي چې خپلو منځو کې بايد اصلاح والى رامنځته کړي او همدارنګه قرانکريم هغه کسان چې اصلاح رامنځته کوونکې وي د لوي اجر او د ثواب زرى ورکړى دى پدي هکله الله جل جلاله فرمايي:**« لاَ خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ**

**إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا» ژباړه:**« د خلکو په پټو مجلسونو کښي زياتره څه ښېګڼه نه وي. هو، که څوك په پټه توګه د صدقې او خيرات لارښوونه وکړي يا د کوم ښه کار لپاره يا د خلکو په چارو کښي د اصلاح کولو لپاره چا ته څه ووايي، نو البته دا ښه خبره ده، او څوك چي د الله د خوشحالولو په خاطر داسي وکړي، هغه ته به موږ لوی ثواب ور په برخه کړو؛» **او بيا فرمايي:« فَمَنْ خَافَ مِنْ مُوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ» ژباړه:**« البته که له چا سره دا اندېښنه وي چي وصيت کوونکي په ناپوهۍ يا په قصدي توګه حق تلفي کړېده؛ او هغه ددې موضوع د اړوندو کسانو په منځ کښي روغه وکړي، نو پر هغه هيڅ وبال نشته، الله ښنونکی او رحم کوونکی دی.» **او بيا فرمايي:«وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى، قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ، وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ، وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ»ژباړه:**« ستا څخه خلك پوښتنه کوي: "له يتيمانو سره دي څه ډول چلن وشي؟" - ورته ووايه: "په کوم ډول چلن کي چي د هغو ښېګڼه وي، د هماغه غوره کول ډېر ښه دي او که تاسي خپل او د هغو خرڅ او لګښت او ژوند، ژواك سره ګډ او سره شريک کړئ، څه باك نشته؛ نو هغوی خو ستاسي وروڼه دي. د ورانکارو او روغ چارو دواړو حال الله ته ښکاره دی. که د الله خوښه شوې وای؛ نو په دې کار کښي به يې تاسي له ستونزو سره مخامخ کړي وای، مګر هغه پر واکمنۍ سربېره د حکمت څښتن هم دی."» **او بيا فرمايي:« وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ * وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ * وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ»** ژباړه:« په انسانانو کي څوك داسي دي چي د هغه خبري د دنيا په ژوند کښي تا ته ډېري ښې ښکاري او هغه پر خپلي نېك نيتۍ په وار وار الله شاهد نيسي، خو په حقيقت کي

هغه د حق ډېر سخت دښمن وي* او کله چي هغه ته قدرت په لاس ورځي (یا کله چي بېرته وګرځي)، نو په ځمکه کښي د هغه ټولي هلي ځلي ددې لپاره وي چي فساد خپور کړي، کښتونه لوټ کړي او انساني ځوځات له منځه یوسي. په داسي حال کښي چي الله (هغه ذات چي هغه به شاهد نیوه) هیڅکله فساد نه خوښوي* او کله چي ورته ویل کیږي چي له الله څخه ووېرېږه؛ نو د خپل پت او ابرو مفکوره یې پر ګناه ټینګوي. د داسي انسان لپاره دوږخ کافي دی؛ او هغه ډېر ناکاره استوګنځی دی.».

نو مونږ.او تاسی پدي ژوند کي دیته ډیره اړتیا لرو چي اخلاقي ارزښتونو ساتنه وکړو هغه ارزښتونه چي الله جل جلاله په کتاب قرآنکریم کي راغلي دي او زمونږ پیغمبر (ص) پلي کړي دي ترڅو هغه تمذن ودي او پرمختک ته ورسیږو چي زمونږ نیکونه رسیدلي وو الله جل جلاله شاعر شوقي ته خیر ورکړي چي دغه شعر یی ویلی دی:

یقینا ملتونه او امتونه په اخلاقو باندي ولاړ دي ترڅو چي دا وي نو دوي وي

که چیرته اخلاق لمنځه ولاړ شي نو دوي هم لمنځه تللي دي

**الله جل جلاله دي دي مونږ ته د نیکو اخلاقو د رامنځته کولو توفیق راکړي څکه چي ددي رامنځته کوونکي بل څوک نشته مګر ته یی الله دی مونږ څخه بدی لری کړي زمونږ هیوادونو ولسونه پوځونه او د پولیسو ساتنه دی وکړي او د نړی د نورو هیوادونو ترڅنګ زمونږ په هیواد کي دي امن او امنیت برقرار کړي**